السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# د مسلمان ازار - يعنې لنګ يا پرتوګ - د پښو تر نيمايي پورې دی، او هغه څه چې د پښې د ګيټيو (ښنګري) او نصف الساق ترمنځ وي نو ګناه پرې نشته يا باک نه لري، خو کوم چې د ښنګري (ګيټيو) نه ښکته شي نو هغه په اور کې دی، څوک چې خپل لباس (کميس او يا پرتوګ) په غرور او تکبر سره (په ځمکه) رښکاږي، نو الله تعالی به ورته ونه ګوري

له أبو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «د مسلمان ازار - يعنې لنګ يا پرتوګ - د پښو تر نيمايي پورې دی، او هغه څه چې د پښې د ګيټيو (ښنګري) او نصف الساق ترمنځ وي نو ګناه پرې نشته يا باک نه لري، خو کوم چې د ښنګري (ګيټيو) نه ښکته شي نو هغه په اور کې دی، څوک چې خپل لباس (کميس او يا پرتوګ) په غرور او تکبر سره (په ځمکه) رښکاږي، نو الله تعالی به ورته ونه ګوري»

[صحيح دی] [ابو داود ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې مسلمان نارينه پرتوګ (هغه څه چې د سړي د ښکته نيمايي بدن پوښي) درې حالاتونه لري: لومړی حالت: مستحب دی چې د ساق يا پنډ تر نيمايي پورې وي. دويم: جايز حالت چې مکروه نه دی، هغه دا دی چې ازار له نيمايي نه لاندې تر ښنګرو يا ګيټيو پورې وي؛ يعنې د پښې هغه دوه راوتي هډوکو پورې چې د پښې او قدم په بند کې دي. دريم حالت: حرام دی چې ازار د پښو له ښنګرو (ګيټيو) نه لاندې وي، نو د دې خطر شته چې د اور (سوځېدو) وړ وګرځي، خو که دا کار په غرور، خوښ، او سرکښ سره ترسره شي نو (ترسره کوونکي ته به) الله تعالی (د رحمت په نظر) ونه ګوري.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4964

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee